Afghanistan Chamber of Commerce & Investment
اتاق تجارت و سرمایه گذاری افغانستان
د افغانستان د سوداګرۍ او پانګونې اتاق

ACCI Business Monitor

# د کاروبار سروې
# ۱۳۹۸

د مخکینۍ سروې په پرتله د اوسني کاروبار د وضعیت په اړه د متشبثینو داډمنتیا زیاته شوې ده خو د راتلونکو شپږو میاشتو لپاره د هغوی تمې راکمې شوې دي.













## د کاروبار د خنډونو سروې

د شرکتونو د راکړې ورکړې پر وړاندې د پرتو خنډونو په سروې کې د بلخ، کابل، کندهار، ننګرهار او هرات له ولایتونو څخه بېلګې راټولې شوې دي.

## د کار و بار د وضعیت سروې

د کاروبار شرایط د کورنیو نا خالصو تولیداتو د ودې د تګلورې د پېژندنې په موخه یو شاخص دی. دغه شاخص د څو راتلونکو میاشتو لپاره د کورني نا خالص تولید په کچه د بدلونونو وړاندوینه کوي. په دې شرط چې په دې موده کې د اقتصاد په عمومي شرایطو کې د پام وړ ستر بدلونونه نه وي رامنځ ته شوي.




# د کاروبار د خنډونو سروې
# د افغانستان د سوداګرۍ
# او پانګونې د اتاق

**لیندی۱۳۹۸**











## دکاروبار د خنډونو سروې

## دکار و بار د وضعیت سروی

# وړاندوینه

د ۲۰۱۲ کال راپدېخوا د افغانستان د سوداګرۍ او پانګې اچونې خونې په پنځو لویو سیمو کې د درې میاشتنیو سرویو او د خنډونو کلنیو سرویو له لارې سوداګریز لیوالتیاوې په منظم ډول څېړلې دي. دا مطالعات او څېړنې د سیاسي او اقتصادي تصمیم نیوونکو او د سوداګریزې ټولنې او لیواله وګړو لپاره هغه معلومات برابروي چې نیغ په نیغه د کمپنیو څخه راټولې شوي دي.

د ۲۰۰۲ کال راهیسې د افغانستان خصوصي سکتور د پام وړ پرمختګ تجربه کړی او د کرنې، لوړو زده کړو، بانکوالۍ، هوایي خدمتونو، مخابراتو، رغاونې او روغتیا ساتنې په شان بیلابیلو سکتورونو کې پانګه اچونه کړې ده.

د دوامداره او هر اړخیزه اقتصادي ودې لپاره باید خصوصي سکتور وهڅول شي او ترې ملاتړ وشي. له نیکه مرغه، په تېرو څو کلونو کې د افغانستان دولت د خصوصي سکتور سره په سلا مشورې کې محسوس کېدونکي سمونونه ترسره کړي دي.

د دولت لخوا خصوصي سکتور ته د خدمتونو د رسولو لګښت او د وخت مدیریت، د جواز ورکولو، ودانیزو جوازونو او په کابل هوایي ډګر کې د صادراتو لپاره د پیرني او د خدمتونو واحد مرکز له لارې ښه والی موندلی دی. که څه هم دا مرکز د مهمو سوداګریزو مرکزونو لپاره لا هم زیاتو منابعو، پرسونل او پراختیا ته اړتیا لري څو خصوصي سکتور په بشپړه توګه برخمنه کړي.

د لومړي ځل لپاره مونږ د صادراتو یو پیاوړی ملي ستراتیژی لرو چې د خصوصي سکتور او د دولت د حقیقي همکاریو یو فرعي محصول دی. زمونږ په اند که چیرې دا ستراتیژی په بشپړه توګه پلې شي نو سوداګریز بیلانس پیاوړی کوي. پر کورنیو تولیداتو باندې د لا زیات تمرکز له لارې اضافه ارزښت لرونکي صادرات زیاتوي. با کیفیته مدیریت او تصدیق لیکونه برابروي، د محصولاتو د عرضې لپاره زنځیري اړیکې رامنځ ته کوي او د هغو افغاني محصولاتو لپاره بازار موندنه کوي چې د سیالۍ او پرتله کولو کیفیت ولري.

د دې ترڅنګ، مونږ د صنعتي ځمکو ته د لاسرسي په برخه کې د ښو مثبتو ګامونو شاهد ؤ او په کابل او ۱۱ نورو ولایتونو کې صنعتي پارکونه جوړ شوي دي.

دغه سروې ځمکې، بریښنا او مالي تمویل ته د لاسرسي په ګډون د سوداګریز چاپیریال، د پانګه اچوونکو خوندیتوب او امنیت، مسلکي کارګرانو او په تشبثاتو کې د ښځو د رول په اړه د خصوصي سکتور لیدلوری څرګندوي.

د سروې موندنې ښیي ، چې ورستیو کلونو کې  د کار و بار په وړاندې د ننګونواو ستونزو زیاتوالي اندیښنې ډېرې کړې دي . له عمومي نامساعد  سیاسي اوامنیتي وضعیت ترڅنګ ، شرکتونه د کسب او کار د نامناسبو قانوني شرایطو،اخاذۍ ، فساد او له ګاونډیو هیوادونو سره د ټرانزیټ له ستونزو هم ځوریږي. ضمناً د سوداګرۍ او پانګونې د تشویق نشتوالی ، د هڅونې او انګیزې پیدا کولو پالیسي ګانو او برنامو نه موجودیت او د مناسبو زیربناووننشتوالی د کار د رشد په وړاندې خنډونه ګرځیدلي او دغې چارې د هوساینې،سوکالۍ او د خلکو عمومي عوایدو د ودې پر بهیر منفي اغیزې کړې دي.

د افغانستان د سوداګرۍ او پانګې اچونې خونې سوداګریز مانیټور به د خصوصي سکتور د ننګونو په اړه د عامه پوهاوۍ له لارې د عامه خصوصي خواوو د خبرو اترو لپاره د یو معلوماتي سرچینې په توګه عمل او فعالیت وکړي. مونږ هیله مند یو چې اړوندې ذینفعې خواوې به د سوداګرۍ لپاره د شرایطو د ښه کولو په موخه د قوانینو او مقررو د تسوید پرمهال پردغو معلوماتو باندې اتکا وکړي.

په افغانستان کې د کاروبار دیو پر مختللي چاپیریال د رامنځته کیدو په هیله،

**سید زمان هاشمی**
**د هیئت عامل رییس**

# مقدمه:

د افغانستان د سوداګرۍ او پانګې اچونې خونه د کاروبار پر وړاندې د شته خنډونو د سروې معلومات چې د شرکتونو په مرسته تر سره شوي، ټول لاسته راوړي معلومات د سیاسي-اقتصادي تصمیم نیونکو، سوداګریزو ټولنو او نورو مینه والو په واک کې ورکوي. یاده سروې د اقتصادي چارو پر وړاندې د شته ننګونو په اړه د معلوماتو د ترلاسه کولو په موخه تر سره کیږي او هغه بدلونونه چې په همدې موده کې رامنځته کیږي تر څېړنې لاندې نیول کیږي.

د کاروبار د خنډونو په سروې کې د بلخ، کابل، قندهار، ننګرهار او هرات ولایتونو څخه یو شمېر شرکتونه د بېلګې په توګه ټاکل شوي. دغه بېلګې د اقتصادي سکټورونو د ځرنګوالي او اندازې له مخې ټاکل شوي. د هرې سیمې د شرکتونو شمېره د هغوې د اقتصادي فعالیتونو د حجم په پام کې نېولو سره په لاندې توګه ټاکل شوې: کابل ۱۶۰ شرکتونه، بلخ، قندهار، ننګرهار او هرات هر یو ۵۰ شرکتونه.

د دغه سروې مرکه د تیلیفون په مرسته د ۱۳۹۸ کال د لیندۍ په میاشت کې تر سره شوې.

د یادونې وړ ده، چې دغه سروې د محرمیت د اصل په رعایت او پام کې نېولو سره تر سره شوې ده او دغه راز د سروې په مرسته لاسته راغلي ارقام یوازې د همدې سروې په جوړولو کې کارول کیږي. د پانګوالو ځانګړي اطلاعات په کامل ډول محرم دي او په ریپوټ کې هم د شرکتونو هیڅ ډول فردي یا شخصي معلومات درج شوي نه دي. راټول شوي معلومات د سوداګرۍ او صنایعو خونه کې د پلټنې د ټیم په مرسته چاڼ او ارزول شوي. د پلټنې یاده اداره په ۲۰۱۲ کال کې د آلمان هېواد د نړیوالو مرستو د ادارې په تخنیکي مرسته را منځته شوې.

## د کاروبار پر وړاندې د پرتو خنډونو د سروې پایلې:

دا چې مخکې ورڅخه یادونه وشوه، د کاروبار پر وړاندې د شته خنډونو سروې هغه ستونزې چې په کابل، بلخ، کندهار، ننګرهار او هرات ولایتونو کې د سروې شوېو شرکتونو پر وړاندې شتون لري، په ګوته کوي.

د کاروبار پر وړاندې د شته خنډونو د سروې پوښتنلیک د کاروبارونو په ملي اجنډا کې د شاملو مسایلو پر محور ولاړ دي. د کاروبار پر وړاندې د شته خنډونو اتمه سروې د ۱۳۹۸ کال د لیندۍ په میاشت کې د ټیلیفون په وسیله ترسره شوې چې ټول ټال ۳۶۰ شرکتونه په برکې نیسي.

### د دغه سروې موندنې په لاندې ډول خلاصه کوو:

۱ ۸۲٫۵۶ سلنه شرکتونو د بریښنا ته نه لاسرسي د هېواد په مختلفو سیمو کې د ټولو سکټورونو یو له سترو ننګونو څخه دي. د خدمات سکتور (۹۰٫۲٪) د بریښنا ته نه لاسرسي له امله زیانمن شوي دي.

۲ د دغه سروې د لاسته موندنو پر بنسټ، پانګوال په دې اند دي چې د بلخ، کندهار، ننګرهار او کابل په ولایتونو کې امنیتي حالت د تېر کال په پرتله لږ څه ښه شوی دي.

۳ نیمایی نه زیات کاروبارونه د مالیاتو له سیستم څخه ناخوښ ښکاري. د دغه ستونزو اصلي دلیل د مالیاتو ډېر پیچلي او غیرشفاف سیستم په ګوته شوي دي.

۴ سروې شوي پانګوال څرګندوي چې د عامه داوطلبیو وضعیت د تېر کال په پرتله څه ناڅه ښه شوی، مګر په کندهار ولایت کې پانګوال د عامه داؤطلبیو څخه نا خوښ دي. شرکتونه په عامه داؤطلبیو کې د ستونزو لامل « ککړ او په خپل سر پروسیجر» او د بډو اخیستل اصلي ستونزې را په ګوته کوي.

۵ ګمرکي شرایط په کندهار، بلخ او کابل د نورو ولایاتو په پرتله ستونزمن دي. د دغه ستونزو اصلي دلیل پیچلې او غیررښې تعرفې په ګوته شوي دي.

۶ دا چې د سوداګرو مېرمنو پر وړاندې ګڼې ستونزې شتون لري مګر د کاروبار د غه سروې راښایي چې په اقتصادي چارو کې د خصوصي پانګوالو تر منځ د مېرمنو شتون د پام وړ ملاتړ څخه بهره مند دي.

## ځمکي ته لاسرسی

د کاروبار پروړاندي د شته خنډونو سروې راښايي چې د تېر کال (۵۰٪) په پرتله (۵۱٬۷۳٪) ځواب ويونکو په ټول هېواد کې ځمکي ته لاسرسې يو له ننګونو څخه را په ګوته کړې چې د تېر ۲۰۱۸ کال (۵۰٪) په پرتله (۴۸٬۲۷٪) سروې شوي شرکتونه دا راښايي چې د ځمکي د پلور او يا هم د اجارې په برخه کې له هېڅ کومې ستونزې سره مخامخ نه دي. د دغه سروې پر بنسټ ځمکي ته لاسرسې يوه عامه ستونزه ده چې د ستر او غټ او منځنيو کاروبارونو په پرتله کوچنيو شرکتونه د سوداګريزو موخو په غرض د ځمکي په تر لاسه کولو کې له زياتو ستونزو او ننګونو سره مخامخ دي.

د سکټوري نظره، سوداګريز (۶۳٬۰۸٪)، توليدي (۵۷٬۵٪) او دغه راز ودانيز شرکتونه (۴۹٬۳٪) د کرنيزو (۴۱٬۷۹٪) او خدماتي شرکتونو (۴۶٬۹۷) په پرتله ځمکي ته د نه لاس رسي څخه ناخوښ دي. د سوداګرۍ سکټور دا را په ګوته کوي چې د دوې لپاره د ځمکي اخيستل د تېر کال په پرتله لا ستونزمن شوي دي. دغه راز د کرنې سکټورد معلوماتو له مخې ځمکي ته د لاس رسي حالت د تير کابل په پرتله لږ څه ښه شوې دې.

ګڼ شمېر سروې شوي شرکتونو (۳۱،۲۸٪) وئيلي چې د ځمکي نشتوالي د هغوې د کاروبار او سوداګرۍ په لار کې تر ټولو ستره ستونزه ده. د دغه پانګوالو (۳۹٬۱۱ ٪) په وينا د سوداګريزو سرايونو لوړه بيه او کرايه ځمکي ته د لاسرسي د لارې ستر خنډ دې. د پام وړ شمېر شرکتونو (۲۱،۲۳٪) په وينا سياسي لاسوهني ستره ننګونه ده. همدا راز د سروې شوېو شرکتونو (۸،۳۸٪) په دې باور دي چې حقوقي او ملکيتي ستونزې ځمکي ته د لاس رسي د لارې خنډونه دي.







گراف ۱ - ځمکي ته لاسرسی

# مالي سرچينو ته لاسرسی

که څه هم په وروستۍ یوه نیمه لسیزه کې مالي سیسټم چټکه وده درلودلې مگر دا مهال هم مالي بنسټونه په اقتصادي راکړو ورکړو کې لږه ونډه لري. سره لدې چې کره ارقام په لاس کې نشته ولې یوه ښکاره خبر ده چې لږ شمېرخصوصي شرکتونه رسمي مالي سرچینو ته لاس رسې لري. ګڼ شمېر شرکتونه د زیاتې بانکي ګټې او د ضمانت د سختو شرایطو له امله نه شي کولاې پور تر لاسه کړي. په داسې حال کې چې د ګټې او مفاد اندازه لږه هم وي یو شمېر پانګوال د قرضې له اخیستو څخه ډډه کوي او په دې باور دي چې سود د اسلامي اصولو پر خلاف دې.

په مجموع کې ۳۷,۲۸٪ ځواب ویونکو وئیلي چې مالي سرچینو ته لاسرسې هغوې ته ستونزمن دي. په داسې حال کې چې ۶۲,۷۲٪ وئیلې چې مالي سرچینو ته په لاس لرلو کې کومه ستونزه نه لري. په مختلفو ولایتونو کې د پانګوالو د نظرونو تر منځ توپیر د لیدو وړ دي. په کابل کې ۳۸,۸۲ سلنه سروی شوي شرکتونو وئیلي چی مالی سرچینو ته د لاس رسي په برخه کی ستونزې لری چی د تېر کال په پرتله کموالی را په ګوته کوي.

په کندهار کې ۴۶,۹۴٪ سروې شوي شرکتونو وئیلي چې مالي سرچینو ته د لاس رسي په برخه کې ستونزې لري. په بلخ کې ۳۴ سلنه، په ننګرهار کې پانګوال د ۳۴,۷۸٪ او دغه راز هرات ولایت کې د ۲۸,۵۷٪ په کچه مالي سرچینو ته د نه لاس رسي څخه خپله نا خوښي را په ګوته کوي.

تېر کال سترو او لویو شرکتونو نظر کوچنیو او منځنیو شرکتونو ته د خپلو زیاتو ستونزو څخه یادونه کړې وه مگر سږ کال د کوچنیو او منځنیو (۴۰٪) شرکتونو ستونزی د لویو شرکتونو(۲۸) په پرتله زیات دی.

تولید او ودانیز شرکتونو (هریواضافه له ۴۰٪) مالي سرچینوته د لاسرسي په برخه کې ترټولو زیاتې ستونزې لری. د تېرو کلونو په څېر اکثر شرکتونه (۵۴,۲۶٪) د ګټې د کچې زیاتوالې، ولې (۲۳,۲۶ ٪) ځواب ویونکي د ضمانت زیاتو سندونو ته اړتیا پور ته د لاس رسي په برخه کې د دوې ستره ستونزه ده. ډېرې سروې شویو شرکتونو د قوي سیاسي واسطې درلودل او پېچلي کاري او سوداګریز پلان ته اړتیا د پور د ترلاسه کولو په برخه کې ستر خنډ بللې.




ګراف ۲- مالي سرچینو ته لاسرسی

# مالیاتي سیستم

افغان پانگوال د پېچلي مالیاتي سیستم له امله چې د ډول ډول مالیاتو څخه متشکل دی، د ستونزو سره مخامخ کړي. دغه سیستم د پېچلي خصوصي سکټور چې گیچ کوونکي او د وړاند ویني وړ نه دي، غېر قانوني کړنو ته لار پرانیزي. پرته له دې، پانگوال د مالیاتو له نوي سیستم څخه هم ناخوښ دي چې هغوی په دې مجبوروي څو خپلې مالیاتي اظهارنامې او مالیاتي بیلانسونه هره میاشت او په ربعوار او کلني ډول وړاندې کړي.

پانگوال په مالیاتي سیستم کې د ستونزو په اړه خپله ناخوښي را په گوته کوي او ٪۵۲،۸۹ سروې شوي پانگوال د مالیاتو سیستم ستونزمن په گوته کوي (تېرکال دا کچه ٪۵۴،۱۷ وه).

په ټولو سکټورونو کې د هغه شرکتونو شمېره چې د مالیاتو د سیستم په اړه ښه نظر نلري د هغه شرکتونو څخه زیات دي چې پدې اړه مثبت نظرلري. مگر په دغه منځ کې سوداگرۍ شرکتونه (٪۶۶،۱۵) د تولید (٪۵۷،۵)، خدمات (٪۵۱،۵۱)، کرنې (٪۴۹،۲۵) او ودانیز (٪۳۹،۷۱) په پرتله بد نظر لري.

لوې شرکتونه (٪۶۴) د کوچني او منځنیو شرکتونو (٪۵۰) څخه په دې برخه کې زیاتې ستونزې را په گوته کوي.

د شرکتونو نیمایي چې د مالیاتو له سیستم سره ستونزه لري د ستونزو اصل دلیل پیچلي او غیرشفاف سیستم په گوته کوي د ٪۳۳،۱۵ په اندازه دا را په گوته کوي چې اوسني مالیاتي نظام غېرعادلانه او خپل سري دې. ٪۱۰،۸۷ دا راښایي چې «د مالیاتو را ټولونکي کارکونکي مقررات او اصول په پام کې نه نیسي».







گراف ۳- مالیاتي سیستم

# د ګمرک شرایط

سوداګریزه ټولنه د مدرن او نویو امکاناتو او تجهیزاتو څخه، د بېلګې په ډول په سرحدي سیمو کې د تخنیکي لابراتوارونو او مناسبو انبارځایونو د نه شتون څخه سر ټکوي. پرته له دې، اوسني ګمرکي طرزالعملونه  پېچلي او غیرمعیاري دي چې د دې سبب کیږي څو سوداګر په سرحدي پوستو کې څو ځلې د هېواد دننه ګمرکي محصول ورکړي.

د کاروبار پر وړاندې د شته خنډونو سروې د صادراتو او وارداتو مقررات او حقوقي شرایط تر څېړنې لاندې نیولې. د دغه سروې پربنسټ د ګمرک شرایطو د تېر کال په پرتله لږ څه ښه والي موندلې دي.

د تېرې سروې (۵۲٫۷۸٪) پر بنیاد هغه شرکتونه چې د ګمرک سره سر او کار لري د ګمرک له شرایطو څخه خوښ ندي، پداسې حال کې چې په دغه سروې کې د هغوی (۴۵٫۲٪) د ګمرک له شرایطو څخه خوښ ندي.

د تېر په څېر د ولایتونو تر منځ فرق زیات دی. په کندهار کې ۵۷٫۸۹٪ شرکتونه چې د ګمرک سره مخامخ اړیکي لري او دغه راز د دې ډلې ۵۰٪ شرکتونو په بلخ ولایت کې د ګمرک شرایط د خپل کاروبار پر وړاندې ستونزمن بللي. دغه اندازه په کابل کې ۴۴٫۵۸ ، په ننګرهار کې ۴۲٫۳۱٪ او هرات کې ۳۶٪ ده.

د ګنو سکټورونو فعالان د دې ښودنه کوي چې ګمرکي طرزالعملونه او سیسټمونه باید و رغول شي. د ګمرکي پروسیجرونو د اوسني وضعیت په اړه د شرکتونو له منځه د سوداګرۍ (۵۱٫۷۹٪) تر منځ د دوی د باورپه په کچه کې د پام وړ ټیټوالی راښایي. د تولید (۵۰٪) خدمات (۴۵٪) کرنیز (۴۰٫۶۳ ٪) او ودانیز (۳۴٫۴۸٪) سکټورونه په ترتیب د ګمرکي شرایطو په اړه خپله نا هیلی راښایي.

په همدې حال کې سترو شرکتونه (۵۳٫۱۹٪) نسبت کوچني (۴۸٫۲۸٪) او منځنیو شرکتونو (۳۷٫۵٪) په پرتله زیاتې ستونزې را په ګوته کوي.

ډېرې ځواب ویونکي د ګمرکي ستونزو اصلي دلیل پېچلي او غیرروښې تعرفې  او اجباري او غېرعادلانه سیسټم را په ګوته کوي. ۱۳٫۷۵٪ وایي «د ګمرک کارکوونکي قانون منونکي ندي».

۱۳٫۷۵٪ سروې شوي شرکتونه اضافي او غیرقانوني فیس ستره ننګونه بللې. د دغه سروې یو کم شمېر ځواب ویونکي « د ګمرک د اداري ډېرټیټ ظرفیت او سرحدي پوستې د وارداتو او صادراتو د مدیریت لپاره ګمرکي ستونزه ده».







ګراف ۴ - د ګمرک شرایط

# داوطلبي

د داوطلبۍ پروسه د روڼتیا د لړوالي او د رقابتي شرایطو له نشتوالي سره مخامخ ده. د کاروبار پر وړاندې د شته خنډونو دغه سروې د تېرې سروې په څېر دا راښايي چې ډېري شمېر شرکتونه له « د داو طلبیو غېرشفاف او خپل سرې حرکت»، « په داوطلبیو کې سیاسي لاسوهنې»، « د بیو ورکړې ته اړ کېدل» او « ډېر درانده بانکي ضمانتونه» څخه په داوطلبیو کې شکایت لري.

په ټوله کې د کاروبار پر وړاندې د شته خنډونو په سروې کې د عامه داوطلبیو په اړه د پانګوالو نظر ښه والي موندلې. مګر په کندهار ولایت کې شرکتونه (۸۰،۹۵٪) په دې برخه کې سخت نا خوښ دي. په هرات (۵۳،۸۵٪)، بلخ (۵۳،۳۳٪) او کابل (۵۱،۶۹٪) ولایتونو کې اکثریت سروې شوي پانګوال په داوطلبیو کې د اصلاحاتو غوښتونکي دي. د ننګرهار (۳۸،۷۱٪) ولایت په دې اړه د نا خوښۍ تر ټولو کمه کچه را په ګوته کوې.

د سوداګریزو (۵۷،۱۴٪)، ساختمان (۵۶،۶٪) او خدماتي (۵۵،۵۶٪) د برخو پانګوال د تولیدي (۵۰٪) او کرنې (۴۷،۸۳٪) برخو په پرتله خپلې ستونزې څه نا څه زیاتې را په ګوته کوي. لویو، منځنیو او کوچنیو کمپنیو د لید تر منځ کوم خاص توپیر په نظر نه راځي.

(۲۶،۶۷٪) سروې شوي شرکتونه په عامه داوطلبیو کې د ستونزو لامل « ککړ او په خپل سر پروسیجر» را په ګوته کوي او د دغه شرکتونو ۳۹ ٪ ډېرې شمېر« سیاسي لاس وهنې» د ستونزو اصلي لامل را په ګوته کوي. د دغه شرکتونو نږدې ۲۱،۹٪ د بیو اخیستل اصلي ستونزه را په ګوته کوي. یواځې ۱۱،۴٪ درانده بانکي ضمانتونه د خپلو ستونزو اصلي لامل را په ګوته کوي.

تدارکاتي موخو ته د رسېدنې په غرض په ټاکلې وخت د معلوماتو ورکړه د رڼو او رقابتي داوطلبیو لپاره د بنسټیزو اړتیاو له جملې څخه دي. د افغانستان د سوداګرۍ او صنایعو خونې دغه ستونزې ته د ځواب وئیلو په موخه ځانګړې ویبسایټ (http://www.kabul-tenders.org) را منځ ته کړې. خونه په عین حال کې ځینې رښتیني او عملي اصلاحات «د اصلاحاتو په موخه د خصوصي سکټور لومړیتوبونه» هم وړاندیز کړي دي.







**ګراف ۵- داوطلبۍ**

# د جواز ثبت او تمدید

په افغانستان کې د خصوصي سکټور لپاره د کاروبار پېل ستونزه نه ده. دا ځکه چې د یو شرکت د ثبتولو لپاره د پانګې کم ترکمه اندازه هم ټاکلې نه ده. په تېرو وختونو کې د یو محدودالمسؤلیت شرکت (LLC) د ثبت په موخه د غوښتنلیک ورکوونکي باید لږ تر لږه یوه اونۍ په افغانستان کې د پانګې اچونې څخه د ملاتړ اداره ( ایسا) کې تېر کړې. په ۲۰۱٦ کال کې د پانګې اچونو د ثبت په موخه د آسان خدمت ځانګه رامنځته او د افغانستان د پانګې اچونې د ملاتړ اداره (ایسا) د سوداګرۍ او صنایعو وزارت سره یو ځای شوه چې په پایله کې به یې د پانګې اچونې د ثبت مصارف او وخت را کم شي.

د پورته پرمختګونو په پایله کې د پانګې اچونې د جواز د ثبت او تمدید شرایط د تېر کال په پرتله ښه شوي او یواځې (۱۴،۷۴٪) سروې شوي شرکتونو د کاروبار پېل یوه ننګونکې ستونزه په ګوته کړې. په کندهار کې پانګوال د تېر کال په خبر د ثبت د مرحلو په اړه (۲۸،۵۷٪) منفي لید لري. دغه راز په بلخ (۲۲٪)، کابل (۱۲،۵٪)، ننګرهار(۱۰،۸۷٪) او هرات (۴،۰۸٪) کې پانګوال د ثبت د اوسنې پروسیجرڅخه نا خوښ دي. د هرات په ولایت کې د شرکتونو د پام وړ شمېره (۹۵،۹۲٪) د کاروبار د پېل شرایط ډېر ښه را په ګوته کوي.

منځنۍ شرکتونه د سترو او کوچني شرکتونو په پرتله په دې اړه د لږو ستونزو ښودنه کوي. په همدې حال کې د خدماتو، سوداګرۍ او ودانیز سکټورونه د کرنې او تولید د سکټورونو په پرتله زیاتې ستونزې را په ګوته کوي.

ځواب ویونکي د خپلو ستونزو د کار «د جواز لنډه موده» او «د جواز د ثبت پېچلي طرزالعمل» د ستونزې په توګه راښيي. د دوې له منځه (۲۴،۴۹٪) په دې عقیده دي چې بډې اخیستنه او درانده اضافي مصارف له غټو ستونزو څخه دي. د سروې شویو کسانو له منځه ٦،۱۲٪ . دغه راز « د کاروبار د ځای څخه د جواز د ثبت او غزولو د ځای لرې والې » هم د ځینې ځواب ویونکو لخوا د یو ستر دلیل په توګه رپوټ ورکول شوي.







گراف ٦- د جواز ثبت او تمدید

# بيخ بناوې

د بنسټونو لړوالي د افغانستان د خصوصي سکټور پر وړاندې يو د سترو ننګونو څخه دې. د بنسټونو د پرمختيا په موخه څه نا څه هلې ځلې تر سره شوي مګر پانګه وال برېښنا، اوبو، او د فاضلو اوبو ويستلو د سيسټمونو ، واټونو او ځېنې وختونه د مخابراتي پوښښ له لړوالي څخه نا خوښي رابنايي.

د کاروبار پر وړاندې د شته خنډونو سروې د دې ښودونکې ده چې د بيخ بناؤ نشتوالي په خاصه توګه د خصوصي سکټور پر وړاندې يوه هېوادنۍ ننګونه ده. د تېر کال په څېر ډېرې سروې شوي شرکتونه (۷۳،۷٪) په هېواد کې د بيخ بناؤ د نه شتون څخه نا خوښ دي. په کندهار کې نږدې (۷۹٪) شرکتونه د بيخ بناؤ نشتوالي د خپلو سوداګرېو پر وړاندې يوه ستره ننګونه په ګوته کوي. په ننګرهار کې ۷۸،۲۶٪ سروې شوي شرکتونه، هرات ۷۳،۴۷٪، کابل ۷۳٪ او په بلخ ولايت کې ۶۴٪ د نامناسبو زيربناؤ څخه اندېښمن دي.

۸۲،۵۶٪ شرکتونه چې په زيربنايي برخو کې ستونزې لري، وايي چې د برېښنا نشتوالي د دوې د کاروبار پر وړاندې تر ټولو لويه ستونزه ده. د کرنې(۸۲،۰۹)، سوداګرې ۷۸،۴۶٪، خدمات (۷۷،۲۷٪)، توليد (۷۶،۲۵٪)او ساختماني سکټور ۵۴،۴۱ ٪ د بيخ بناؤ نشتوالي او د هغوې پر کاروبارونو د هغې د منفي تاثيراتو څخه اندېښمن دي.

لوې او منځنې شرکتونه د کوچنيو شرکتونو په پرتله زياتې بيخ بنايي ستونزې را په ګوته کوي.

**لوې او منځنې شرکتونه د کوچنيو شرکتونو په پرتله زياتې بيخ بنايي ستونزې را په ګوته کوي.**




| | توليدي | ودانيز | خدماتي | سوداګريز | کرنيز | ټولټال |
|---|---|---|---|---|---|---|
| د مخابراتي پوښښ کموالي | 1.58 | 2.64 | 5.88 | 5.89 | 0 | 3.1 |
| د فاضلاب او د فاضله توکو د راغونډولو د سيستم کمښت | 7.94 | 2.63 | 0 | 1.96 | 1.82 | 3.1 |
| د برېښنا کمښت | 84.13 | 89.47 | 90.2 | 80.39 | 70.91 | 82.56 |
| د اوبو کمښت | 6.35 | 5.26 | 3.92 | 11.76 | 27.27 | 11.24 |

ګراف ۷- بيخ بناوې (زيربناوې)

# مسلکي کاري ځواک

افغانستان د زده کړو د لازمو آسانتياؤ د کموالي او مهاجرتونو له امله د ماهرو کارکوونکو له کمي سره مخامخ دي. د کاروبار پر وړاندې د شته خنډونو سروې راښايي چې د ماهرو کارکوونکو ستونزه په ټولو سروې شوېو زونونو کې ستره ننګونه بلل شوې. کابل او ننګرهار د کندهار، هرات او بلخ ولايتونو په پرتله د کارپوه کارکوونکو په برخه کې د زياتو ستونزو سره مخامخ دي.

سوداګريز شرکتونه (۳۰,۷۷٪)، ودانيز (۲۲,۰٦ ٪)،توليدی (۲۱,۲۵ ٪)، خدماتی (۲۱,۲۱ ٪) او کرنيز(۱۹,۴٪) د ماهرو کارکوونکو ته د لاس رسي په برخه کې د زياتو ستونزو سره مخامخ دي.

د دغه سروې د موندنو پر بنسټ ماهرو کارکوونکو ته د لاس رسي په برخه کې د کوچنيو منځنيو (۱۹٪) او سترو شرکتونو (۳۵ ٪) تر منځ د پام وړ توپير په نظر راځي.




ګراف -۸ مسلکي کاري ځواک

# امنيت

امنيت په ټولو سکټورونو کې د پانګوالو پر وړاندې ستره ننګونه ده. د هېواد په ځينې سيمو کې د سوداګريزو توکو وړل راوړل يو ستونزمن او د خطر نه ډک کار دې.

دغه سروې راښايي چې پانګوال د کابل، بلخ، کندهار او ننګرهار ولايتونو د امنيتي وضعې په اړه د تېر کال په پرتله لږ څه هيله مند دي.

په ټوله کې ۴۱,٦۲٪ سروې شوي شرکتونه له خراب امنيت څخه سرټکوي. په هرات(۵۷,۱۵٪)،بلخ (۴۴٪) کې دغه شرکتونه د ننګرهار (۴۱,۳٪)، کابل (۴۰٪) او کندهار (۲۸,۵۷٪) په پرتله خپلې زياتې ستونزې را په ګوته کوي.

خدماتی سکتور (۵۱،۵۲٪) تر ټولو سکتورونو نه زيات او سوداګری (۳۰٪) د نورو شرکتونه نه کم امنيتي ستونزی را په ګوته کوي.

د امنيتي وضعېت په اړه منځنيو او کوچنيو شرکتونو د سترو شرکتونو نه ډير تهديدات سره مخامخ دي.




**ګراف ۹- امنيت**

# په تشبثاتو کې د ښځو ونډه

په افغانستان کې یو شمېر اقتصادي چارې د یو لړ دودیزو او نورو ستونزو له امله په لړ ډول د مېرمنو پر وړاندې پرانستې دي. چې په پایله کې یې د دغه ستر انساني ځواک د وزګار پاتې کېدو له امله د هېواد اقتصادي حرکت ته نه جبرانیدونکي زیان رسیږي.

دا چې د سوداګرو مېرمنو پر وړاندې ګڼې ستونزې شتون لري مګر د کاروبار د غه سروې رابښایي چې په اقتصادي چارو کې د خصوصي پانګوالو تر منځ د مېرمنو شتون د پام وړ ملاتړ ښخه بهره مند دي. په ټوله کې ۸۲،۹٪ سروې شوي شرکتونه وایي چې لا زیاتې مېرمنې باید کاروبار ته راودانګي. تېر کال ۸۳،۸٪ پانګوالو په سوداګرۍ او کاروبار کې د مېرمنو د شتون ښخه خپل ملاتړ کړې وو.

دغه سروې رابښایي چې په کاروبار او اقتصادي چارو کې د مېرمنو شتون ښخه د هېواد په ټولو سیمو کې په ټینګه ملاتړ کیږي. ولې په کابل (۸۸،۰۸٪) او هرات ولایتونو کې پانګوال (۸۵،۷۱٪)، کندهار (۷۹،۵۹٪)، ننګرهار (۷۶،۰۹) او بلخ(۷۴٪) د ولایتونو په پرتله په اقتصادي چارو کې د مېرمنو د ګډون ښخه ملاتړ را په ګوته کوي.

په اقتصادي چارو کې د مېرمنو د ونډې ښخه د ملاتړ په برخه کې د لویو، منځنیو او کوچنیو کمپنیو د لید تر منځ کوم خاص توپیر په نظر نه راځي.




ګراف ۱۰- په تشبثاتو کې د ښځو ونډه






# د افغانستان د سوداګرۍ او پانګونې اتاق د کار و بار د وضعیت سروې



## ستري موندنې:

- د مخکينۍ سروې په پرتله د اوسني کاروبار د وضعيت په اړه د متشبثينو ډاډمنتيا زياته شوې ده خو د راتلونکو شپږو مياشتو لپاره د هغوی تمې راکمې شوې دي.
- د تېر سرويو په شان د متشبثينو سپارښتنې د راکمېدو په حال کې دي. د سکتوري درجه بندۍ له پلوه، قندهار (-۴۴، ۷۴) تر ټولو لږې سپارښتنې/ فرمايشات او ننگرهار (-۳۲،۲۸) تر ټولو ښه سپارښتنې/فرمايشات درلودلي دي.
- د کسب او کار د درې واړو ډلو لپاره د کاروبار اوسني شرايط منفي دي، کوچني شرکتونه د منځنيو او لويو شرکتونو په پرتله له ناوړه کاروبار څخه کړيږي، خو لوی شرکتونه مثبتونه ليدلوري لري.
- د سروې د مخکيني دورې په پرتله د شرکتونو د دندو ليدلوري کمزوره شوي دي. له سکتوري پلوه، کرنه د دندې شاخص (۳،۸) تر ټولو غوره او سوداگرۍ (-۱۲،۲) کچه کې ښودل شوې ده.
- په اوسط توگه د مخکينۍ سروې په پرتله امنيتي وضعيت هومره خراب شوی دی. د تېرې دورې په پرتله د کندهار ولايت د امنيتي وضعيت شاخص ښه شوی دی. په ټوليزه توگه د امنيتي شاخص وضعيت پاينښت نه لري.
- بازار،اداري سمونونو او بيخ بنسټونو ته د متشبثينو تقاضا لږ څه ښه شوې ده، خو د امنيت او پور لپاره تقاضا لا هم د دوو جدي ستونزو په توگه پاتې شوې دي.

## الف. دکار و بار شرايط:

د کاروبار او سوداگرۍ شرايط د کورنيو داخلي توليداتو د پرمختيا د حرکت پېژندنې شاخص دي، دغه شاخص په معمولي ډول د څو راتلونکو مياشتو په ترڅ کې د نا خالصو کورنيو توليداتو په کچه بدلونونه را په گوته کوي، په دې شرط چې په ټوليز اقتصادي حالت کې کوم نابېره بدلون رامنځ ته نشي.
د کاروبار د شرايطو شاخص د شرکتونو د مسؤلينو د وړاندوينې پر بنسټ په راتلونکو شپږو مياشتو کې د هغوې د کاروبار پر وضعيت او سوداگرۍ ته د هغوې په هيله مندۍ ولاړ دی چې د منل شوې نړېوال معيار پر بنسټ محاسبه کېږي (د لازياتو معلوماتو لپاره د دغه رپوټ په پای کې ضميمې ته مراجعه وکړئ).
د دغه شاخصونو د قيمت حد د مثبت ۱۰۰ او منفي ۱۰۰ تر منځ ټاکل شوې، چې د صفر نقطه د عادي يا په خپل حال په معنا او له صفر څخه تر مثبت ۱۰۰ د کاروبار مثبت شرايط او له صفر څخه تر منفی ۱۰۰ د کاروبار منفي شرايط را په گوته کوي.

## الف. ۱ - دکار وبار عمومې شرايط د هر ولايت په تفکيک:

د ۱۳۹۸ کال د ليندۍ په مياشت کې د کاروبار د عمومي شرايطو شاخص د کابل، بلخ، قندهار، ننگرهار او هرات لپاره په ټوله کې (-۱۳،۵) دې، پداسې حال کې چې په تېره سروې کې دغه اندازه (-۱۰،۹) وه. څرنگه چې په گراف کې ليدل کيږي د کار وبار عمومي وضعيت د تېرو درېو سروې گانو په پرتله خراب شوې.

دغه راز په دې دوره کې د ۱۳۹۸ کال د تېرې دورې په پرتله د کارو بار عمومي شرايط لا خراب شوي دي. د اوسنۍ وضعېت په اړه د پانگوالو د باور کچه هم د تېرې سروې په پرتله ښه شوې ده (-۲۱،۷۱ ⟵ -۳۱،۴۸)، دغه راز د راتلونکو شپږو مياشتو لپاره د هغوې د هيله مندۍ کچه را ټيټه شوې ده (۱،۷۳⟵۸،۵۹).

په دې سروې کې هيڅ يوه سيمه د کاروبار او سوداگرۍ د مثبت شاخص درلودونکې نه وه.پرته له کابل، ټولو سروی شوی سيمو مگر سره له دې يې هم د کاروبار شاخص منفي او د تېر کال د همدې دورې په پرتله ښه شوی دې.

---

سوداگرۍ ته د لېوالتيا سروې د سوداگريو له مديرانو څخه د دوی د کاروبار د اوسني وضعيت او په راتلونکو شپږو مياشتو کې د دوی د هيلو په اړه نظرونه پوښتنې. اوسنۍ سروې د هېواد په شپږو سيمو ( کابل، بلخ، کندهار، هرات او ننگرهار) کې تر سره شوېده چې په دې لړ کې له ۷۰۵ شرکتونو سره د ۲۰۱۹ کال د نومبر په لومړۍ او دوهمه اونۍ کې د ټيليفون په مرسته مرکې تر سره شوي دي.

ACCI BCI




| | IV-13 | I-14 | II-14 | IV-14 | I-15 | II-15 | III-15 | IV-15 | I-16 | II-16 | III - 16 | IV - 2016 | I - 2017 | II - 2017 | III - 2017 | IV - 2017 | I - 2018 | II - 2018 | III - 2018 | IV - 2018 | II - 2019 | III - 2019 | IV - 2019 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ټولټال | 8 | 27 | 1 | 31 | 19.3 | 2.21 | -23 | -19 | -9.1 | -6.7 | -6.8 | -9.9 | -9.1 | -6.7 | -5.8 | -12. | 4.4 | -9.6 | -19. | -24. | -11. | -10. | -13. |
| کابل | 12 | 29 | -8 | 31 | 11 | -2.5 | -40 | -26 | -9.3 | -21 | -14 | -30 | -29. | -27. | -10. | -26. | 6.5 | -16. | -15. | -18. | -5.5 | -13. | -20. |

گراف ۱: د کاروبار عمومی شرایط۱۳۹۱ – ۱۳۹۸

ACCI BCI




| | II-14 | IV-14 | I-15 | II-15 | III-15 | IV-15 | I-16 | II-16 | III - 16 | IV - 2016 | I - 2017 | II-2017 | III - 2017 | IV - 2017 | I - 2018 | II-2018 | III - 2018 | IV - 2018 | II-2019 | III - 2019 | IV - 2019 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| کابل | -8 | 31 | 11 | -2.5 | -40 | -26 | -9.3 | -21 | -14 | -30 | -30 | -27 | -10 | -26 | 6.5 | -16 | -15 | -19 | -5.5 | -14 | -21 |
| بلخ | -21 | 31 | 21.7 | 20.2 | -31 | -11 | 3.89 | -54 | -5.6 | -21 | -15 | -12 | -15 | -16 | 3.5 | -12 | -20 | -28 | -24 | -23 | -16 |
| کندهار | 10 | 33 | 25.6 | 2.75 | -12 | -27 | -19 | 5 | -1.1 | -2.6 | -21 | -20 | -9.2 | -3.4 | -9.6 | 2.7 | -7 | -23 | -8.3 | -3.6 | -8.3 |
| ننگرهار | 18 | 37 | 31.7 | 18.9 | -1.1 | -6.1 | -11 | 27.8 | -3.9 | 5.65 | 12.6 | 23.5 | 10 | -4 | 8.7 | 1.3 | -31 | -24 | -4.8 | -5.6 | -3.5 |
| هرات | 4 | 24 | 6.7 | -28 | -31 | -24 | -9.4 | 8.33 | -10 | -1.5 | 7 | 2.2 | -5.1 | -13 | 12.9 | -16 | -23 | -28 | -15 | -8.5 | -11 |

گراف ۲: د کار وبار عمومي شرایط د هر ولایت په تفکیک ۱۳۹۳ – ۱۳۹۸

## الف.۲- د کاري ساحو (سکټورونو) په تفکیک سره د کاروبار وضعیت

سربیره پر دی چی دکاروبارو اوسنی شرایط منفی دي، مگر کرنه سکټور خپل د کاروبارو شرایط مثبت بللي. کرنې سکټور د پخوانې سروې په پرتله د نا مناسب وضعیت (۱٫۴) درلودونکې دې ، چې لا هم د ټولو سکټورونو د جدول په سر کې ځاې لري.

خدماتي سکټور د (۲۳٫۷ -)، ساختمان (-۱۸٫۷)، سوداگری (-۱۵٫۳)، تولید (-۱۳٫۱) او کرنې (۱٫۴) په درلودو سره په ترتیب د کاروبار بد شرایط را په گوته کوي.

ACCI BCI




| | II-14 | IV-14 | I-15 | II-15 | III-15 | IV-15 | I-16 | II-16 | III - 16 | IV - 2016 | I- 2017 | II- 2017 | III - 2017 | IV - 2017 | I- 2018 | II- 2018 | III - 2018 | IV - 2018 | II- 2019 | III - 2019 | IV - 2019 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| تولیدي | 3 | 36 | 18.7 | 19.7 | -20.6 | -11.8 | -0.91 | -4.24 | -1.52 | -12.7 | -19.4 | -20 | -19.4 | -25.5 | 5.7 | -18.7 | -16.7 | -23.6 | -12.1 | -14 | -13.1 |
| سوداگری | -1 | 32 | 20.7 | -5.52 | -26.6 | -25.2 | -8.28 | -3.45 | -6.9 | -11.4 | -14.8 | -9.3 | -1.3 | -6.3 | -6.1 | -12.8 | -27.9 | -31.1 | -23.1 | -16.3 | -15.3 |
| ودانیز | 11 | 25 | 9.5 | -11.4 | -28.6 | -21.9 | -20 | -14.3 | -16.7 | -27.6 | -14.8 | -15.3 | 0.7 | -27.2 | 5.9 | -19.2 | -28.6 | -29.2 | -14.3 | -16.8 | -18.7 |
| خدماتي | 0 | 29 | 19.3 | -5.4 | -31.4 | -23.8 | -11.4 | -17.9 | -10.7 | -15.2 | -19.4 | -12.8 | 0.1 | -18.6 | 9.3 | -5.9 | -17.6 | -18.2 | -9.7 | -12.5 | -23.7 |
| کرنی او مالداری | | | | | | | | | | -5.52 | 3.8 | 5.9 | 1.1 | -1 | 9.6 | 6.9 | -3.5 | -16.8 | 6.2 | 1.8 | 1.4 |

گراف۳: د کاروبار وضعیت د سکټورونو پر بنسټ ۱۳۹۳ - ۱۳۹۸

## الف .۳- د کاروبار وضعیت د شرکتونو د اندازې له مخې

په دې سروې کې هم د پخوانیو سروې گانو په څېر د سترو، منځنیو او کوچنیو پانگوالو نظر د کاروبار د وضعیت په اړه متفاوت دې.

د کوچنیو او منځنیو شرکتونو د کاروبار وضعیت (۱۸،۱-) د تېرې سروې (۱۵،۵-) په پرتله نا مناسب دې. سترو شرکتونو د کاروبار د وضعیت شاخص د روان کال د دریمې په پرتله څه نا څه ښه دې.

ستر شرکتونه (۱۹،۱)، منځني شرکتونه (۲۰،۷۷-) او دغه راز کوچني شرکتونه (۴۸،۱۵-) د کاروبار نا مناسب وضعیت راپه گوته کوي.

ACCI BCI




| | II-2014 | IV-2014 | I-2015 | II-2015 | III-2015 | IV-2015 | I-2016 | II-16 | III - 16 | IV - 2016 | I-2017 | II-2017 | III - 2017 | IV 2017 | I-2018 | II-2018 | III - 2018 | IV 2018 | II-2019 | III - 2019 | IV - 2019 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| کوچنی او منځنی | -5 | 29 | 11.9 | -5.4 | -33 | -27 | -15 | -14 | -12 | -16 | -22 | -19 | -15 | -22 | -2.6 | -15 | -24 | -30 | -16 | -18 | -18 |
| لوی | 6 | 35 | 27.7 | 13 | -15 | -7.5 | 1 | -1.5 | -1 | -9.7 | 3.6 | 4.4 | 8.6 | -2.6 | 17.5 | -1 | -9.2 | -13 | -2.2 | 0.4 | -5.7 |

گراف ۴: د شرکتونو د اندازې پر اساس د کاروبار وضعیت ۱۳۹۳ - ۱۳۹۸

## ب. سپاربښتنې:

پانګوال را په ګوته کوي چې د هغوې  سپاربښتنو ښه والې موندلې ده (۳٦،۱-). د يادونې وړ ده چې دغه اندازه د ۲۰۱۸ کال د همدغه دورې د سپاربښتنو د شاخص ( ۴۳،۵-) په پرتله ښه شوې ده. هيڅ يو ولايت د سپاربښتنو د مثبت شاخص درلودونکې نه وو مګر ننګرهار (۲۸،۳۲-) د کندهار (۴۴،۷۴ -)، کابل (۳۵،۵۴-)، هرات (-۳۵،۴) او بلخ (۳۲،۲۷- ) د ولايتونو څخه په نسبتآ ښه حالت کې قرار درلود.

ACCI BCI




| | II-2014 | IV-2014 | I-2015 | II-2015 | III-2015 | IV-2015 | I-2016 | II - 2016 | III - 2016 | IV - 2016 | I-2017 | II-2017 | III - 2017 | IV 2017 | I-2018 | II-2018 | III - 2018 | IV 2018 | II-2019 | III - 2019 | IV - 2019 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د سپاربښتنو وضع | -52 | -41 | -48 | -55 | -58 | -64 | -62 | -60 | -33 | -30 | -38 | -37 | -36 | -41 | -44 | -49 | -44 | -43 | -44 | -43 | -36 |

ګراف ۵: د سپاربښتنو عمومي وضعيت  ۱۳۹۳ - ۱۳۹۸

# ج. د کار ګمارنې هیلې:

٦ شمېره ګراف د شرکتونو  د کارګمارنې د اوسنې حالت د بیلانس حاصل جمع او په راتلونکو درېو میاشتو کې د  کار ګمارنې په برخه کې د پانګوالو هیله مندي را په ګوته کوي.

د دې سروې پر بنسټ، شرکتونه د خپل اړخه د کار ګمارنې وړاندوینې په اړه ډېر هیله مند ندي

(۱۷،۴۹ -). کرنه د (-۱۷،۴۹) په درلودو سره په لوړ ترین او سوداګری سکټور په (-۱۲،۳) سره د کارګمارنې تر ټولو کمې هیلې راپه ګوته کوي.

د تل په څېر، د کارګمارنې اوسنې وضعیت د پخوانۍ سروې د ځواب ویونکو د هیلو سره متفاوت دی.

د هغه ځواب ویونکو شمېره چې په وینا یې کارکوونکې کم شوي د هغو څخه ۱۷،۴۹٪ زیات دي چې په وینا یې کارکوونکو زیات والې مونډلې وو.

سوداګری شرکتونه د(-۱۲،۳)، ساختمانی سکټور (۱۲،۲ -)، خدمات (۱۲،۲ -) او تولیدی په   (۱۰،۹ -) سره تر ټولو زیات کارکوونکې له لاسه ورکړي. مګر د کرنې سکټور په (۷،۴) سره تر ټولو زیات کاری فرصتونه را منځته کړي دي.

ACCI BCI




| | II-2014 | IV-2014 | I-2015 | II-2015 | III-2015 | IV-2015 | I-2016 | II-16 | III - 16 | IV - 2016 | I-2017 | II-2017 | III - 2017 | IV - 2017 | I-2018 | II-2018 | III - 2018 | IV - 2018 | II-2019 | III - 2019 | IV - 2019 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| تولیدي | 43 | 56 | 40.6 | 27.9 | -19 | -33 | -11 | -16 | 0.91 | -4.9 | -17 | -10 | -9.4 | -23 | 6.6 | -12 | -11 | -18 | -2.7 | -6.7 | -11 |
| سوداګری | 39 | 45 | 42.8 | 23.5 | -21 | -35 | -15 | -16 | -5.5 | -9.7 | -8.7 | -9.4 | 4.1 | -17 | 13.7 | 0 | -11 | -25 | -2.1 | -9.6 | -12 |
| ودانیز | 20 | 37 | 34.5 | 23.5 | -17 | -24 | -20 | -12 | -15 | -8.3 | -12 | -8.3 | 1.1 | -4.9 | -5 | -5.3 | -17 | -9.1 | -20 | -14 | -12 |
| خدماتي | 18 | 30 | 34.3 | -5.7 | -19 | -41 | -23 | -20 | -22 | -19 | -11 | -13 | -2.9 | -26 | 9.3 | -10 | -16 | -17 | -4.3 | -12 | -12 |
| کرنی او مالداری | | | | | | | | | | 1.75 | 4.9 | 21 | 13.1 | 3.1 | 12.4 | 9.3 | 6.3 | -8.1 | 11.4 | 8.3 | 7.3 |

ګراف ٦: د کار ګمارنې د هیلو مجموعه ۱۳۹۳ الی ۱۳۹۸

## د. امنيتي وضعيت:

د امنيت د وضعيت شاخص (-۲۷،۷) د پخوانۍ سروې (-۳۹،۸۸ ) په نسبت د لوړو سيمه ايزو بدلونو په درلودو سره لږ څه ښه شوي دي. د کابل (-۳٦،۳۷)، بلخ (-۳٦،۳٦)، هرات (-۳۲،۷۵)، ننګرهار (-۱۷،۷) او کندهار (-٦،۰۹) سروې شوي پانګوال په شديده توګه د امنيتي وضعې د خرابېدو خبر ورکوي. په ټوله کې امنيتي وضعه خرابه په نظر راځي.




| | II-14 | IV-14 | I-15 | II-15 | III-15 | IV-15 | I-16 | II-16 | III - 16 | IV - 2016 | I-2017 | II-2017 | III - 2017 | IV - 2017 | I-2018 | II-2018 | III - 2018 | IV - 2018 | II-2019 | III - 2019 | IV - 2019 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| کابل | 1 | -17 | -41 | -55 | -70 | -62 | -59 | -34 | -18 | -48 | -66 | -64 | -49 | -62 | -36 | -53 | -49 | -40 | -48 | -45 | -36 |
| بلخ | -7 | 17 | 33.3 | -29 | -62 | -40 | -66 | -64 | -47 | -46 | -36 | -14 | -40 | -23 | -31 | -35 | -49 | -38 | -39 | -60 | -36 |
| کندهار | 13 | 22 | 54.5 | 19.8 | 18.9 | -19 | 35.6 | 5.55 | -2.2 | -15 | 2.5 | -5.2 | -4.4 | 26.1 | 13.9 | 1.8 | 8.69 | -12 | -15 | -8.2 | -6.1 |
| ننګرهار | -22 | -16 | 38.9 | -37 | -47 | -78 | -60 | -49 | 7.77 | -52 | 5.2 | -14 | -30 | 71.2 | -32 | -37 | -61 | -44 | -25 | -45 | -18 |
| هرات | 0 | -17 | -5.6 | -38 | -62 | -40 | -8.9 | -30 | -18 | -15 | -3.3 | -53 | -57 | 16.5 | -2.6 | -25 | -38 | -32 | -32 | -34 | -33 |

ګراف ۷: د ولايتونو پر بنسټ امنيتي وضعيت ۱۳۹۳ - ۱۳۹۸

# هـ. د کاروبار پر وړاندې شته خنډونه:

د کاروبار پر وړاندې د سترو خنډونو ارزونه راښايي چې اړين امنيت د پانګوالو لپاره د سوداګرۍ د پراختيا او پرمختيا په برخه کې تر ټولو با ارزښته عامل دی. له دې وروسته په ترتيب سره بازار، توکو او خدمتونو ته اړتيا، اداري سمون، غوره ښېخ بناوې او مالي سرچينو ته لاس رسې د اقتصادي کړنو د پرمختګ لپاره بنسټيز عوامل شمېرل کيږي.




| | II-14 | IV-14 | I-15 | II-15 | III-15 | IV-15 | I-16 | II-16 | III - 16 | IV - 2016 | I- 2017 | II- 2017 | III - 2017 | IV - 2017 | I- 2018 | II- 2018 | III - 2018 | IV - 2018 | II- 2019 | III - 2019 | IV - 2019 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د امنیت نشتوالي | 53 | 44 | 45.18 | 41.43 | 53.93 | 55.71 | 47.58 | 64.11 | 54.29 | 63.12 | 54.8 | 70.2 | 67.5 | 58.3 | 46.5 | 54.07 | 52.35 | 49.29 | 50.35 | 55.47 | 57.86 |
| عرضه او تقاضا نشتوالي | 23 | 27 | 19.11 | 21.61 | 21.96 | 21.25 | 23.08 | 12.5 | 20.36 | 10.07 | 15.5 | 10.1 | 11.5 | 14.6 | 17.9 | 13.41 | 19.77 | 16.86 | 17.59 | 16.47 | 16.59 |
| د اداری اصلاحات | 6 | 7 | 13.75 | 17.5 | 13.57 | 12.86 | 14.67 | 9.82 | 10.54 | 8.51 | 18.2 | 8.5 | 9.6 | 9.5 | 16.3 | 11.55 | 13.23 | 13.6 | 15.18 | 12.24 | 11.4 |
| د بیخ بنا نشتوالي | 12 | 17 | 17.14 | 13.93 | 6.25 | 7.32 | 9.84 | 7.86 | 10.18 | 12.77 | 7.4 | 9.8 | 8.5 | 13.2 | 11.2 | 14.27 | 9.39 | 14.02 | 10.07 | 12.24 | 9.38 |
| مالی سرچینو ته لاسرسی | 6 | 5 | 4.82 | 5.54 | 4.29 | 2.86 | 4.83 | 5.71 | 4.64 | 5.53 | 4.3 | 1.4 | 2.9 | 4.4 | 8.1 | 6.42 | 5.26 | 6.23 | 6.81 | 3.79 | 4.76 |

گراف ۸: د کاروبار پر وړاندې شته خنډونه ۱۳۹۳ الی ۱۳۹۸

# ضمیمه:
# د کاروبار تعریف:

د کاروبار شرايط د توليدي، ساختماني، خدماتي، سوداګريز او کرنيزو شرکتونو د دوره يي سروې پر بنسټ تشخيص کيږي. د شرکتونو له مسؤلينو څخه د اوسني وضعيت د څرنګوالي او په راتلونکو شپږو مياشتو کې د هغوی د هيله مندۍ په اړه پوښتنې تر سره کيږي. هغوی د خپل کاروبار وضعيت د درېو انتخابو څخه د يو په ټاکلو سره ( د عادي څخه غوره، عادي، د عادي څخه خراب) او خپلې هيلې د درېو ټاکنو څخه د يو په انتخابولو سره ( ښه به شي، بدلون به ونه مومي، خراب به شي) ټاکي.

له عادي څخه غوره انتخاب مثبت او له عادي څخه خراب منفي فرض کوو. د اوسني وضعيت شاخص د مثبت او منفي ځوابونو د فيصدۍ له تفريق څخه لاسته راځي. په همدې حال کې د هيلو يا توقعاتو شاخص د «ښه به شي» او «خراب به شي» د ټاکنو تر منځ د سلنو له فرق څخه لاسته راځي.

د کاروبار شرايط د کاروبار د وضعيت له حسابی اوسط او هيلو يا توقعاتو څخه عبارت دي.

په ګرافي ښودنه کې د سروې په لومړي دوره کې  د «عادی» او «بدلون به ونه مومي» انتخابونه د صفر د نقطې په توګه په پام کې نيول کيږي. د کاروبار د شرايطو شاخص له صفر څخه تر مثبت ۱۰۰ (ترټولو زيات) د مثبت په لور او منفی ۱۰۰ (ترټولو کم) د منفي په لور ممکن تغير ومومي. وروسته، کله چې زماني سيريزونه (time series) رامنځته شي، د کاروبار د شرايطو د صفر نقطه د ټاکلي کال د سروې د پايلو په پام کې نيولو سره ټاکل کيږي او دغه راز وروستي کلونه د همدغه کال پر اساس اټکل کيږي.



**ترتیب کوونکې:**

د افغانستان د سوداگرۍ او پانگونې اتاق

**تمویل کوونکی:**

د آلمان هېواد د پرمختیایي مرستو اداره (جی آی زید)

**د رپوټ لیکونکي:**

بصیر نورانی و داکتر مسعود پروانفر

**د معلوماتو را ټولونکي:**

هیلی اسدی، رامش رسولی، مریم کامیار، سید رامش، اجمل عاصم و زلال اکبر

**ډیزاینر :**

محمد ناصر یاوری | ۰۷۰۶۶۰۶۷۸۳

**کابل، د ۱۳۹۸ کال د لیندۍ میاشت**

د چاپ او خپرولو حق د افغانستان سوداگرۍ او پانگونې اتاق ته خوندي دې.

## ولې سروې او څېړنه تر سره کوو؟

- د کاروبار د خنډونو په اړه د عامه پوهاي د کچې لوړول
- د کاروبار د وضعیت په اړه زمونږ د پوهې لوړول
- د دولت او خصوصي سکټور تر منځ د خبرو اترو په موخه د کره اسنادو او ارقامو لاسته راوړل
- د کاروبار د چاپېریال د ښه کېدا په موخه وړاندیزونه

## په دې سروې کې نغښتل شوي برخې:

- معیاري لارې چارې او پوښتنلیکونه
- د ټیلیفون له لارې مرکه
- کارکوونکو او زده کړیالانو ته د زده کړې ورکړه
- په ملي کچه پوښښ
- د اقتصاد ټول سکټورونه
- د سوداګرۍ او صنایعو خونې غړي شرکتونه/ هغه شرکتونه چې د خونې غړیتوب نه لري

## کاروبار ته د لېوالتیا سروې:

الف: د لنډمهاله اقتصادي بدلونونو  څېړنه، تحلیل او وړاندوینه

ب: په هرو دریو میاشتو کې د یوځل لپاره د یوه کوچني پوښتنلیک له لارې تر سره کول

ج: دا ډول سروې تر ډېره په منځنیو او کوچنیو شرکتونو باندې تمرکز کوي ( له دې امله چې دا شرکتونه په اقتصادي بدلونونو کې ډېره اغېزه لري.

## د کاروبار د خنډونو سروې:

الف: د هغه د هغه اوږد مهاله ستونزو د پېژندنې په موخه تر سره کیږي چې د کاروبار د پرمختګ مخه نیسي.

ب: هرکال یو ځل د یوه هر اړخیزه پوښتنلیک له لارې تر سره کیږي.

ج: د کاروبار د ستونزو سروې تر ډېره په کوچنیو شرکتونو تمرکز کوي، ځکه چې دا شرکتونه تر ډېره د ستونزو سره مخامخ کیږي. له بله پلوه که څه هم د دوې د کار کوونکو شمېره کمه وي. مګر په اقتصاد کې مهم رول لري.




Afghanistan Chamber of Commerce & Investment
اتاق تجارت و سرمایه گذاری افغانستان
د افغانستان د سوداګرۍ او پانګونې اتاق

حضوري چمن
کابل ننداريِ ته څیرمه
کابل - افغانستان
+۹۳ (۰) ۷۵ ۲۰۲ ۵۸ ۵۴
+۹۳ (۰) ۷۹ ۴۴۴ ۹۰ ۵۵
research1@acci.org.af
www.acci.org.af
http://www.acci.org.af/surveys-and-studies.html
پست بکس: 233



با همکاری مالی

همکاری
آلمان
DEUTSCHE ZUSAMMENARBEIT